AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

قاسم باز
۲۰۲۶/۰۳/۲۳

# ایا د افغانستان د اوسني غمیزی د حل لاره

## د لوی جرگی په دایریدلو کی ده؟

که لویه جرگه دایره شی او پریکړی یی عملی نشی څه گټه به ملت ته ورسوی .؟
ایا د اساسی قانون جوړیدل ااا ته کورني او بهرنی مشروعیت وربخښلی شی.؟
دا هاغه سوالونه دی چی باید تر هر څه د مخه ورته علمی او منطقی ځوابونه وویل شی.
په کال ۲۰۰۲ میلادی کی د ناټو اتحاد د امریکا په مشری په افغانستان کی اساسی قانون جوړه او شل کاله دی قانون دوام وکړ. دا چی دا قانون څومره په حقیقی ډول پلی شو یا نشو مونږ ټولو ته معلوم او د سترگو مو پټ نه و . د بده بخته د هاغه وخت د اساسی قانون اکثره مواد نه تنها چی نه عملی کیده برعکس پر اکثره هدایاتو یی د حکومت د لوړ پوړه بریخو لخوا پښی اېښودل کیدی.
د مثال په ډول :
پدی قانون کي لیکل شوی وه چی:

۱-اساسی قانون د اسلامی شرعیت مطابق دی ؟
اما په حقیقت کی په دی اساسی قانون کی د شرعیت کلیمه صرف د خلکو د تیرایستلو لپاره ذکر شوی وه . ځکه ددی اساسی قانون ځنی مواد د شرعیت اسلامی سره په ټکر کی وه.
۲- ملی حاکمیت او استقلال د افغانستان په وگړو پوری مربوط دی .؟
حال دا، کوم استقلال او ملی حاکمیت.؟ ځمکه او هوا د پردو پلاس کی وه .
۳- انتخابات ازاد او شفاف چی د دیموکراسی اصلی رکن دی. اما بدبختانه ریس جمهور راته خارجیانو ټاکه .
۴- د دولت لوړ پوړی مامورین باید د عالی تحصیلاتو خاوندان وی ، څومره وزیرانو او نورو لوړ پوړو مامورینوعالی تحصیلات درلوده . ؟
په لسهاو نور موارد هم وه چی په اساسی قانون کښی ذکر شوی وه ولی ټول تر پښو لاندی شوی وه هیڅا پر ځان او بل چا نه تطبیق کول، صرف یواځی یوه ماده وه چی په اساسی قانون کی تسجیل شوی او پری عمل شوی و هاغه د افغانستان د حکومت او دولت مرکزیت چی د کابل ښار و شوی و، او بس.
نو که په ریښتیا ووایو د داسی اساسی قانون د درلودلو څخه چی عملی نشی نه درلودل یی بهتر وه .
زمونږ یو تعداد خط خوان ورونه او خویندی پدی ټینگار کوی وایی چی د ااا باید لویه جرگه راوبالی دا لویه جرگه اساسی قانون جوړ کړی ، نو که چیری بیا د دوی څخه پوښتنه وکړی او ورته و وایی چی تاسی له یوی خوا وایی چی ااا مشروعیت نلری چی لویه جرگه راوبالی او بیا اساسی قانون جوړ کړی نو که داسی وی بیا ولی تاسی د هغوی څخه د لوی جرگی او اساسی قانون د جوړیدو هیله او تمه لری ، ایا د یاده مو وتلی چی امریکایانو د دوحی په تړون کی ۷ ځایه په واضح ډول لیکلی دی چی « امریکا د طالبانو حرکت د دولت په نامه نه پیژنی .»
په اوسنی وخت کی چی افغانستان د لوی داخلی او خارجی مصیبت سره لاس او گریبان دی هر ورځ پنجابی استبلیشمنت د افغانستان مرکز پایتخت بمبارد کوی بی گناه خلک وژنی ، د بلی خوا زمونږ یو تعداد خود غرضه هموطنان د پاکستان د تبلیغاتو تر تاثیر لاندی راغلی دوی په شعوری او غیر شعوری ډول وایی چی ولی ااا د پاکستان سره ډغری وهی. زه دی بریخو ته په ځغرده وایم که ډغری و نه وهی ااا څه وکړی ؟ ستاسی په نظر هر څه چی پاکستان غواړی باید ورسره یی و منی ؟ ، نو که یی و منی بیا به همدا تاسی بریخی وایی چی ( ببین طا ل ب نوکر پاکستان است ). ختم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ